

یوه مرغۍ او یو مرغی ؤ- دواړه به یوځائ په
یوه وَنه کې وسېدل- د هغوئ د وښو نه جوړ
یو ښکلی شان کور ؤ- مرغۍ د کړکۍ له لارې
خپلو ګاونډیانو سره خبرې کولې- هغوئ به یو
ځائ دانې خوړلې-



د کور کار کولو څخه وروسته به مرغی ښئ
ډېر ارام کاؤ- پر ونه به هروخت درزغوبل وو-
ټولي مرغۍ او مېږان به په خپلو کارونو
کي بوخت وو- پاس په ونه کي يو کارګۀ هم
استوګنه کوله- مېږي ووئيل، واه! څومره
ښکلی کور دی-



طوطي ووئیل! اوکنه، وګوره، رڼا کې ئې
رنګ د بوډۍ ټال په رنګه ښکاري- مینا
ووئیل، مېږیه! کارګۀ خو چا سره په سمه خلۀ
خبري هم نه کوي- مېږي ووئیل! او کنه! هغه
په خپل کور باندي ډېر غرور کوي- مېږي د
ژمي د پاره بوره جمع کړه-



مرغۍ ووئیل څۀ پاخۀ کړم- نن خو څۀ
مالګین پاخۀ کړه ځکه چي پرون مي ډېر
خوارۀ خوړلي دي، "مرغی ووئیل"- زما
هم مالګین خوراک ته زړۀ کښیږي نو څۀ
پاخه کړم؟ "مرغۍ ووئیل "د وریځو نه
بل کوم ښۀ سی وي- "مرغی ووئیل"- د
مرغۍ په خلۀ کي هم اوبه راغلی-



مرغۍ وابنۀ راټول کړل او اور ئي بل کړو-
مرغی د پټي نه د دالو او وريځو دانې راوړې
او کټوۍ ئي باندې کړه- کټوۍ چې په يشېدو
سوه نو د مرغی او مرغۍ په خلۀ کي اوبۀ
راغلی- د هغوئ نه په کټو کي مالګه اچول
هېر سوي وو- مرغی د کارګۀ د کور دروازه
وټکوله-



کارګۀ په غُصه کي دروازه خلاصه کړه- مرغی ورته ووئیل چي زموږ په کور کي مالګه ختمه سوې ده نو موږ ته لږه مالګه راکړه- کارګۀ ورته انکار وکړو او دروازه ئي بنده کړه-



مرغی ډېر خوبدی سو چي زۀ ولي د کارګۀ
خوا ته تلم- مرغۍ ورته ووئيل مالګه دي
راوړه- مرغی ووئيل چي تر داسي مالګي نه
خو بې مالګي ډوډۍ ښه ده- دواړو صبروکړو،
وريځې ئي وخوړې او شُکر ئي ادا کړو-



د یخنۍ موسم پېلېدونکی وو- یخه یخه هوا چلېده- خبر دي وي، نن خو پر اسمان توري ګوري وربځې خورې دي - مرغی ووئیل- مرغۍ ټولي کړکۍ دروازي بندي کړي- په نیمه شپه کي پر اسمان کړز ګړوز پېل سو- مرغۍ او مرغی راویخ سول نو له باندې څخه ئي د ژړېدو اواز تر غوږ سو-



مرغی په هیبت سره دروازه خلاصه کړه، څه ګوري چې له د باندې کارګۀ بې حاله ولاړ دی- د یخنۍ د لاسه ټول رپېدو او اواز ئې هم کېپېدو- مرغی ترې پو ښتنه وکړه- وروره دومره تېز باران کې بهر ولې ولاړ ئې؟ د کارګۀ په سترګو کې اوښکې راغلې-



مرغۍ چې پورته د ونې سر ته وکتل نو حېران پاته سو- د کارګۀ د مالګې څخه جوړ کور په باران کې بهېدلی ؤ- مرغۍ ډېر خفه سو- کارګۀ ئې کور ته رادننه کړو- کارګۀ ډېر شرمنده ؤ ځکه چې هغه چیرې هم د چا مرسته نه وه کړې- د مالګې څخه جوړ کور چې کارګۀ پرې ډېر غورو کولو د باران په اوبو کې بهېدلی ؤ-



په دې سخت وخت کې هغوئ د کارګۀ ډېره مرسته وکړه- بله ورځ مرغۍ، مرغۍ او نورو ټولو مرغانو وابنۀ راجمع کړل او کارګۀ له ئې په شریکه کور جوړ کړو-

# بګ بکس

## د دویم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بین الاقوامي ترقۍ دپاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ دپاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کې لوستلې شي- استاذان به دا بِګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لَولي- د هر بِګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړي شوي دي- استاذان دې په هفته کې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصۍ واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې ترلاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي- مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# د استاذانو د پاره لارښوونې

پاملرنه: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قيصه اوروي او په لاندينې لارښوونو دې عمل کوي-

## لومړۍ ورځ (خبري اترې: پېش ګوئي او زاړه معلومات)

### تر لوستلو مخکې

- د ماشومانو نه د قيصې د سرپاڼې ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ:
- کوشنيانو څخه پوښتنه وکړئ چې ددې قيصې سرخط به څۀ وي؟

### د لوست په مينځ کې

- د دويم مخ تصوير ښودلو په وخت پوښتنه وکړئ، ګارګۀ چيرې ناست دی؟
- د دويم مخ عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ چې ټولې مرغۍ او مېږان څۀ کوي؟

### تر لوست وروسته

د خپلې خوښې د دوۀ سوالونو پوښتنه وکړئ

- مېږې په خپلو ګاونډيانو باندې څۀ ووېشل؟
- کارګۀ ولې د چينو اخستلو څخه انکار وکړو ؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

کېدې سی چې ستاسو په ټولګي کې ځينې داسې لوستونکې هم وي چې مورنۍ ژبه يې پښتو نه وي، دا لاندينې سوالونه يوآځې د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ-

- سرپاڼه ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ چې، تاسو په خپله ژبه کې "مالګې" ته څۀ واياست؟
- په څلورم مخ د "د ګارګۀ" عکس ورښکاره کړئ او پوښتنه وکړئ، ستاسو په ژبه کې ګارګۀ ته څۀ وائې؟
- په پنځم مخ جمله "د مرغۍ په خلۀ کې هم اوبه راغلې"ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو ووآياست؟
- په لسم مخ دمه واخلئ او جمله د تاثراتو او د لب و لهجې ښکته پورته والي سره ولولئ "د يخنۍ د لاسه ټول رپېدو او اواز ئې هم کېږدو" ماشومانو ته خپله ژبه کې دا جمله د لوستلو وواياست-

ماشومانو ته ټکې وواياست اود هغې د ږغ پوښتنه ځنې وکړئ-
لکه: کور- ک
ټکي: مرغۍ، ځاله، کور، ګرز ګروز، واښۀ، کارګه

## دريمه ورځ (ذخيره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست وروسته

- په دولسم مخ جمله "په دې سخت وخت کې هغوي د کارګۀ ډېره مرسته وکړه" کې "مرسته" مطلب "د چا سره ښۀ کول" استعمال کړئ او يو مثال ورکړئ لکه:- "موږ له ضرورت مندو سره مرسته کول پکار دي-" اوس د جملو جوړولو په وخت په ماشومانو پام کوئ-
- په لسم مخ جمله "مرغۍ په هېبت سره دروازه خلاصه کړه" د ماشومانو څخه د دې د مطلب پوښتنه وکړئ يا وضاحت وکړئ اوس ماشومانو ته وواياست چې "هېبت" ټکی په جملو کې وکاروي- د جملو جوړولو په وخت د ماشومانو مرسته وکړئ-
- په يولسم مخ دا جمله "مرغۍ چې پورته د وَني سر ته وکتل نو حېرانه پاتې سو "د ماشومانو څخه د دې د مطلب پوښتنه وکړئ يا وضاحت وکړئ اوس ماشومانو ته وواياست چې "حېرانه پاتې سو" په جملو کې وکاروي-

## څلورمه ورځ (خبري اترې: د ذاتي ژوند په هکله)

### تر لوست وروسته

- قيصه د څۀ په هکله ده؟
- په دې قيصه کې ستاسو کوم کردار ډېر خوښ سو؟ ولې؟
- مرغۍ د کارګه نه څۀ وغوښتل؟
- د مرغۍ څۀ خوړلو ته زړۀ کېدو؟
- د کارګۀ د کور رنګ د څۀ په رنګه ښکارېدو؟
- مېږې د ژمي د پاره څۀ جمع کول؟


www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن سوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-